له ظالم سره مرسته مه کوئ
دوشنبه د ۱۳۷۵هـ ش کال د سرطان(۲۵) د ۱۹۹۶ع کال د جولای (۱۵)

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه وایی : د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: چاچي له ظالم سره مرسته وکړه چی د هغه د باطل په واسطه حق مغلوبه کړی . نوړهغه د الله(ج) له حفا ظت څخه خلاص شو. (الله د هغه ساتنه نه کوی).

(المعجم الصغیرللطبرانی ـ٤٤ ـ مخ)

شریعت

اونیزه /

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارګان

ظالمانو ته میلان مه کوئ!

لوي خداي جل جلاله فرمایلي دي: تاسي(د دوستښې) میلان هغه چا ته مه کوئ چي ظلم یې کړي دي، نو تاسي ته به اور ورسیږي ،حال دا چې له الله(ج) نه پرته به د تاسي هیڅ دوستان نه وي (چي له عذابه مو وساتي) بیا به له تاسي سره مرسته ونه کړي شي.

(ژپاړه "هود" ۱۱۳)

لومړی کال　　اوویشتمه ګنه　　دوشنبه د ۱۳۷۵هـ ش د سرطان (۲۵)　　د ۱۹۹۶ میلادی کال د جولای (۱۵)　　د ۱٤۱۷ هـ ق کال صفرالمظفر (۲۹)

امیر المؤمنین مجاهد ملا محمد عمر آخند د حرکت انقلاب اسلامی وفد ته په خبرو کی وویل :

له رباني سره مذاکرات د وخت له ضیاع پرته بله هیڅ نتیجه نه لري

موږ د علماؤو په فتوی د فساد په مقابل کی جهاد اعلان کړی دی

هغه ورځ ډیره ژر راتلونکی ده چی خپل مسلمان ملت ته له دغه ستر بحران څخه نجات ورکړو

حرکت انقلاب اسلامی افغانستان د امیر مولوی محمد نبی محمدی استازو له امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد سره وکتل

زموږ خبریال له کندهار څخه خبر راکوي چی د جهادي مشر محترم محمدي ستازو هریوه محمد سعید هاشمي او محترم مولوي محمد سخی د جمعې په ورځ د امارت په دفتر کی د امیرالمؤمنین حضور ته ورغلل او د مولوي محمدی سلامونه او نیکي هیلی یې د هغوی حضور ته ورسولی.

خبریال زیاتوی د هیواد د روانو حالاتو په اړه د یو لړ ګټورو خبرو په ترڅ کی هیئت په جلال آباد کي د استاد رباني سره د محترم مولوي محمدی ، محترم پیر سید احمد ګیلاني او محترم مولوی خالص دکتني په ارتباط امیر المؤمنین ته معلومات ورکړل.

امیرالمؤمنین هغوی ته په خطاب کی وویل: په ټوله نړی‌کی که اسلامي حکومتونه دی او که غیر اسلامی خو چي یوه واحده قوماندانه و نه لری امن نه شي را وستلای، مذاکرات او خبری له مخلصو او یا درګه اشخاصو سره نه کار دی. خو له رباني سره مذاکرات د وخت له ضیاع نه پرته بله نتیجه نه لری. دا چی رباني او ائتلافیونو یی په زرګونو انسانان ووژل داعر څه د اقتدار لپاره وو او په دوی کی داسی انسانان هم شته چی تر مرګه پوری قدرت ته نه پریږدی.

ده وویل: مخالفین په دی پوهیږی چی د طالبانو د اسلامی تحریک د سه نظم او دسپلین اساسی عوامل ددوي د رهبري اسلامي غیر متزلزل مواقف او دریزونه دي، که طالبان له خپلو اسلامي مواقفو حخه تیریږی او یواځي د مادیاتو په خاطر او څو دولتي پوستونو د ترلاسه کولو په

پاتی ص ٤

د ګردیز هوائی ډګر د الوتنو د استفادی ور وګرځید

له ګردیز څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی په وروستیو شپو ورځو کی د ګردیز هوایي ډګر د (UNHCR) د موسسي په مرسته ترمیم او د الوتنو استفادی ور وګرځید.

خبریال زیاتوی: اوس دغه هوایي ډګر د الوتنو لپاره تیار دی او له ترمیم وروسته دری الوتنی پکی اجرا شوي. وروسته له دی هر راغلی پرواز کولای شی چی له دغه هوایي ډګر څخه په استفادی سره هلته کښی او پاڅی.

****

د شینډنډ په لویه لار یو شمیر لار شکوونکي ووژل شول

له هرات څخه زموږ خبریال خبر را کوی چی له څو ورځو را پدیخوا د شینډنډ په لویه لار کی یو شمیر ډاکووانو او لاره شکوونکو د خلکو ارام ژوند ګډوډ کړی او په لږغاري یې لاس پوری کړی وه خو د جمعی په ورځ غرمه مهال دطالبانو د اسلامی تحریک دغښتلو امنیتي ځواکونو له خو سخت وځپل شول.

خبریال زیاتوی ډاکو وانو غوښتل دمقاومت په نتیجه کی ځانونه له صحنی څخه وباسی خو وی نه شوای کړای چی وتیښتی لاره پیدا کړی او په نتیجه کې د دوی د قوماندان په ګډون چی اصلی نوم یې فیض اله و خو د خلکو د غولونی لپاره یې پر ځان د جلات خان نوم ایښی و پنځه تنه له منځه یوورل شول.

خبریال زیاتوی چی له دغو غلو او ډاکوانو څخه پنځه میله کلاشینکوف دوه میله د رندی ماشینداری دومیله توپانچی او یو میل راکټ تر لاسه شوه او موضوع تر تحقیق او څیړنی لاندی ده تر څو نوری شبکی یې هم کشف او دخپلو عملونو په جزا ورسول شي.

کابل ایتلافی اداره له پیشو وغورځود چي د کابل ښاریانو ته د سر او مال تاوان و نه رسیږي.

خبریال زیاتوی چي په دي کښته کي قومي مشر حاجي محمد نعیم کوچي، ائتل قوماندان ملا عبدالسلام راکټي، ملا عبدالله، مولوي صدراعظم او یو شمیر نور شخصیتونه حاضر وو هغوی د محترم ملا صاحب حمایه وکړه او دحکومت په

پاتې په ۴ مخ کې

زموږ کوښښ دا دی چی د کابل ښاریان له کړاوونو او مشکلاتو سره مخامخ نه شي (ملا بورجان اخوند

موږ به تر هغه پوري خوب او راحت نه کوو چي په هیواد کی د مسلمان ملت په خوښه اسلامي نظام نه وي ټینګ شوی، (د لوګر مشران او قومندانان

د لوګر ولایت له مرکز نه زموږ خبریال خبر راکوی چی د سرطان په ۱٦ نیټه د هغه ولایت په مرکز کی یو شمیر علماؤ، قامي مشرانو، سپین ږیرو، قوماندانانو او عامو خلکو له قوماندان ملا بورجان اخند سره وکتل.

د کتنی په سرکی د عظیم الشان قرآن څو مبارکو آیتونه و لوستل شول وریسی د لوګر ولایت د نظامي قوماندان محترم ملابورجان اخندد طالبانو د اسلامی تحریک د رغنده هلو ځلو او په لوګر ولایت کي د نظامي او سیاسی حالاتو په اړه ګټوري او هر اړخیزی خبري وکړی.

ده وویل: له دښمن سره په لومړیو کرښو کي د اسلامي تحریک دپیاوړو مجاهدینو مورال ډیر قوی دی او هره شیبه د دښمن مقابلی ته تیار ولاړ دي. خو زموږ کوښښ دا دی چي د کابل ښاریان له کړاوونو او مشکلاتو سره مخامخ نه شي، نو زیار باسو چي له داسي لارو څخه د

د کابل تش په نامه ننی ائتلاف ددي لپاره دي چه خلکو ته یو حل بیا دوکه ورکړي. (مولوی فضل احمد)

ننی ائتلاف پخپلو لومړیو شیبو کی د طالبانو پر سنګرونو بریدونه پیل کړل (مولوی عبداللطیف)

د افغانستان مجاهد ملت په پوره شهامت د کمونیزم مقابله وکړه. (مولوی احمدجان)

د طالبانو اسلامي تحریک ددی لپاره پیل شوی دی چی ددغه وحشت او بربریت مخه ونیسي

ننی ائتلاف هم لکه د پخوانیو ائتلافونو په شان د اسلام پر ضد یوه توطئه ده. (مولوي موسی جان)

د ازاخیلو په کمپ کي د طالبانو د اسلامی تحریک په ملاتړ یوه پرتمینه غونډه جوړه شوه.

غونډه د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وریسی د ازاخیلو د کمپ مشهور عالم محترم مولوی فضل احمد پخپله عالمانه وینا کی وویل: د کابل د تش په نامه اداری ننی ائتلاف ددی لپاره دی چي خلکو ته یو ځل بیا د اسلام په نامه دوکه ورکړی او په یوه بله نوره دوره کی یې ور داخل کړی او په دی توګه څو کاله نور هم دا مظلوم ملت د نجات لاره پیدا نه کړای شي.

ده وویل: دا ائتلاف د اسلام پر خلاف خدعه او منافقت دي، دوی یوازی ددی لپاره متحد شوی دی چې د طالبانو د اسلامي تحریک مخه و- نیسي، خو زه د یو عالم په صفت دا وایم چی تاریخ ثابته کړي ده هغه څوک چی د حق په مقابل کي دریږي خدای(ج) یې له ماتی سره مخامخ کوی.

تر ده وروسته د خیر آباد د کمپ یو مشهور عالم محترم مولوی عبداللطیف په زړه پوری خبري وکړي وي ویل: د طالبانو د اسلامی تحریک خاص ددی لپاره پیل شوی دی چه دي هیواد ته له هغو مصیبتونو او مشکلاتو څخه نجات ورکړی چی ددغو ائتلافیونو له خوا ورته پیدا شوی دی.

ده وویل: د طالبانو پر ضد د دښمنانو له خوا یولړنا معقول او ناروا تبلیغات روان دی، خو تاریخ شاهد دی چی د اسلام دښمنانو پخوا هم روحانیونو او علماؤ ته انګریزان ویل، خو پوهو او صالحو انسانانو دا درک کړی چه دغه ناروا تبلیغات ددی لپاره ؤ چی دوي خپل

پاتی ص ٤

د مسلماني عقیده

دوهم مخ

د ملتونو تولنه

دوهم مخ

هرڅه مو هکبار هکبار شول

دوهم مخ

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

دریم مخ

[illegible]

دریم مخ

د ادب ملغلري

دریم مخ

یورانیم افغانستان به روسیه و هند انتقال داده میشود

یورانیم افغانستان به روسیه و هند انتقال داده میشود

شاهدان معتبر عيني از کابل خبر میدهند که از مدت مدیدی به اینطرف یورانیم از افغانستان توسط طیاراتیکه از روسیه و هند مواد نظامي، لوژستیکی و غیره به بګرام انتقال میدهند، برده میشود،

منبع مي افزاید که طیارات حامل بار از روسیه و هند وقتیکه بار خود را در میدان بګرام تخلیه میکنند براي کسی حتی پرسونل میدان هوایی بګرام نیز اجازه داده نمی شود که به طیاره نزدیك شوند و توسط افراد خاص مسعود و روسها و هندیها در بدل بار که از روسیه و هند آورده است، یورانیم جابه جاي شده به روسیه و هند انتقال داده میشود.

منبع متذکره ادعا میکند که همچنان به هند و روسیه مواد مخدره نیز انتقال داده میشود که این کار تحت سرپرستي یکي از معاونین مسعود بنام تورن لطیف صورت میګیرد که شخص متذکره پسر کاکای مسعود بوده و یك شخص عیاش و معتاد به مواد مخدره نیز میباشد.

****

د سید کرم په ولسوالۍ کې یوه اندازه مخدره مواد ونیول شول

د پکتیا ولایت د سیدکرم له ولسوالۍ څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی په دی وروستیو شپو ورځو کی د هغی ولسوالۍ امنیتي مسؤلینو مخدره موادو دری موټر ونیول.

خبریال زیاتوی په ۱۵ بوریو کی مخدره مواد ځاي په ځای شوی وو او د نامشروعی استفادی لپاره وړل کیدل چي د طالبانو د اسلامي تحریك د امنیتي ځواکونو له خوا ونیول شول.

مخدره مواد د ګردیز امنیه قوماندانی ته تسلیم او مجرمین په شرعی محکمه کی تر تحقیق او پوښتنی لاندي دی.

****

قوماندان بزرگ و مهم اداره، ائتلافی، علاؤالدین خان بدست محافظ شخصی اش به قتل رسید

علاؤالدین خان به دستور زمامداران ایرانی علیه حاکمیت ملی کشور مصروف توطئه بود

خبرنګار ما از هرات خبر میدهد علاؤالدین خان که یکی از قوماندانان مشهور و مهم اداره، ائتلافی کابل در جنوب غرب کشور بود و بعد از سقوط ولایات جنوب غرب کشور بدست تحریك اسلامي طالبان بادارو دسته، مجرم خود به ایران پناهنده شده وبالیه، دست زمامداران حریص و ماجرا جوي ایران ګردیده و علیه حاکمیت ملی و تمامیت ارضی کشور به رهبري زمامداران ایراني مصروف توطئه و تخریب کاري بود که غرض برآورده کردن همین آرزو و هدف شوم به کوهاي ولسوالی پشتون

سرمقاله

کابینه، بلارعیت اداره، کابل

اداره، ائتلافی کابل رئیس ازخود داشت، صدراعظم را مفت یافت، اکنون هردو به اشتراك همدیگر کابینه، میتراشند ،دیګر همه چیز پوره کرده میتوانند ولي یگانه چیز مورد ضرورت شان مُلك و رعیت است که متأسفانه یافته نه میتوانند. یك چند ولایتکه محض بنام در زیر نګین خود میدانند مسلمانان آن هم درحقیقت با فرزندان اصیل و متدین افغانستان (تحریك اسلامی طالبان) ارتباط و خلوص و صمیمیت دارند و اضافه از نیم افغانستان در زیر اداره، مستقیم تحریك اسلامی طالبان و دیګر از ولایات کشور قلبا و روحاً به آنها وابسته میباشند.

اداره، بدون مملکت شان با شاهي اطفال شباهت دارد که سواي چوکی هاي بنام و بدون اعتبار درآنجا نه غم رعیت و مردم است نه غم امنیت و انصاف مظلوم از ظالم تنها چیزی که از اطفال اظافه دارند پول و پیسه است که خود چاپ میکنند؛ در اینصورت اګر کلانان اداره، کابل دم از مملکت و مردم داري میزنند و یا خود را نماینده همه مردم افغانستان میتراشند، جاي بس شرم وخجالت است، هیچ عاقلی شرم و عاری را به این پیمانه براي خود نمي پسندد، دانسته نمیشود که چشم کلانان این اداره- چګونه بسته است؟ یا بسته کرده اند؟ که براي عار و خجالتی چنان بزرګ- بسطح جهان- تن در داده اند و هنوز بنا دارند که براي پادشاهي (!) بدون رعیت کابینه و شاخهای آن بتراشند! و هیچ به مشوره و نصیحت ناصحان دروني و بیروني ګوش نمیدهند که خود را از این شرم و عار

باقی ص ۲

اٰنانیکه به خود سری و شر عادت گرفته اند، امید خیر از ایشان بیهوده است

شريعت

د امتياز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامي تحريك
د تأسيس كال : ۱۳۷٤هـ ش
د ليكوال هيئت تر كتنې لاندې
مسئول مدير : مولوي احمد جان
ټيليفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پېښور كې د طالبانو د اسلامي تحريك نمائندگي
د يوې گڼې بيه : په هېواد كې (۳۰۰) افغانۍ
په پاكستان كې (۳) كلداري

سرمقاله ...

برهانند.

آن چيزيكه ملت مسلمان و مجاهد افغانستان ميخواهند و براى آن محتاج اند امن و سكون، رهايى از شر دزدان دشتي و دولتى ، رهايى از فتنه، آشوبگران ماجراجو، اقامه نظام عدل الهى، تعمير و آباداني مملكت ويران خود نه عنوانهاى بلند بالاى ميان تهى و بي اثر صدراعظم و وزير كبير و مشير و دبير و...؛

لله الحمد كه خواسته هائى ملت مجاهد و مسلمان ما با تحريك اسلامى طالبان است و عناوين پوچ و بى محتوا با اداره، كابل، درچنين حالتى اگر به اداره، كابل بگويى كه قدرت رابه تحريك اسلامي طالبان بسپاريد تا نابسامانيهاى ناتمام اين مسلمانان زجر كشيده سامان بيابد، بمثل كلمه، كفر تلقى كرده از كمال خود خواهى سركشى از حق و طغيان و استنكاف از خير ميكنند و بخير ملت و ارمان شهداى كرام به نگاه نفرت و خصومت مي بينند، ولى بكمال بي انصافى و ديده درايى مردم را به اداره بي محتواو شاهي بدون رعيت» خود دعوت ميكنند پروسه صلح (!) ، گامي بسوي تفاهم و...ا مينامند!

در اين دو سه سال اخير بهترين معيار و محك اراده مردم ما نرخ نوتهاى افغانى است هر وقتيكه تحريك اسلامي طالبان گامى به پيش رفته پيوسته به

د فقهي تاريخ او څلور ملهبونه

د څلورم دور اتم توپير: دغه ډېر د پام وړ توپير وځكه د اسلامي فقهي داسي نابغه پوهان(فقهاي كرام رحمهم الله تعالى) پكې راوتو كېږل چې د اسلامي امت ټولو اهل السنت والجماعة د مخكښي (زعامت) اعتراف وړباندي وكړ.

د پخوانيو دورونو فقهاي كرام رضي الله عنهم سره له دي چې ډېر وو او لوي شان يې درلود خو د يوه هم تدوين شوي مذهب پاتي نه ؤ يوازي ځيني ځيني اقوال د هر يو را ... حوي ؤ او هغه د روښتنيو فقهاؤ(رح) لپاره د لاري مشال وو مگر په ځانگړي توگه يو هم مشخص زعيم او امام منل شوي نه و بلكې د هر يوه د قول به په مختلفو مواقعو پيروي كيدله يعنى په مجموع كي هريو امام ؤ، مگر ددغه دور فقهاؤ(رح) ته د اسلامي امت اكثريت داسي اعتبار وركړ چې ددوي په پل باندي يې ايښود، ددوى د وينا پيروي يې كوله آن تردي چي ددوى وينا(قـول) يې د نصوصو په درجه كې گاڼه، نه ور څخه تيرېدل ددوي ددغې ځانگړتيا سببونه دا وو چې:

۱ - ددوي ټولي وينا وي په يوه ځاي تدوين شوي او د سلفو(رض) ويناوي په يو ځاى كې تدوين نه شوي بلكې خورې ورې را نقل شوى دي.

۲ - ددوى شاگردانو ددوي ويناگانى تدوين او خپرى كړى له هغوى نه يې علمي دفاع كوله او ددغو شاگردانو هم په اسلامي امت كې دغسي د احترام ور مقام و چې مسلمانان ددوى علمي او فقهي

د مسلماني عقيده

پنځه ويشتمه گڼه

غازي خيل

كرنلاري ته په لوي ارزښت قائل وو.

۳ - مسلمانانو غوښتل چې د قاضيانو مذهب تدوين شوي او ښكاره مذهب وي ترڅو په حكم كې د نفسي غوښتني تر اغيزي لاندي راته شي او يا بد گماني وړباندي و نه شي.

اوس ددې خبري وخت راورسيده چې دهغو فقهاوو كرامو رحمهم الله تعالى پيژندگلوي وكړو چې مذهبونه يې تدوين شوي دي، په اسلامي پرگنو كې يې پيروان دي او ورسره به ددوى ځانگړتيا وي هم وړايو، په دوى ټولو كې مشر، امام ابوحنيفه رحمه الله دي، دده دومره زيات تبلك صفتونه دي چې دخپل مذهب له پيروانو نه يې پرته د نورومذهبونو امام او پيروانو دده په مدح كې غټ غټ كتابونه ليكلي دي، موږ په ددغې جريدي د كسي حوصلې له امله د هغو لنډيز راواخلو :

لومړی امام، امام ابوحنيفه نعمان د ثابت زوى(رح) هغه د زوطي او هغه د ماه زوى ، په خته د افغانستان او په(۸۰ هـ) كال په كوفه كې زيږيدلى دي، دده په وخت كې څلور اصحابان (رض) وو، انس بن مالك(رض) په بصره كې، عبدالله بن ابي اوفى (رض) په كوفه كې، سهل بن

سعد الساعدى(رض) په مدينه منوره كې او ابوالطفيل عامر بن واثله (رض) په مكه مكرمه كې وو، يو روايت داسې دى چې دوي يې نه دي ليدلى او بل روايت داسي دي چې انس بن مالك (رض) يې ليدلى دى او د(طلب العلم فريضة...) حديث روايت يې ورنه كړي دى، همدغه رنگه يې په (۹٦هـ) كې دحج په وخت كې عبدالله بن الحارث بن جزء الزبيدى صحابي(رض) ليدلى دي او داسي يې ورڅخه اوريدلي دي چې هغه ويل: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «من تفقه فى دين الله كفاه الله مهمه و رزقه من حيث لا يحتسب» په دغه روايت سره امام صاحب (رح) تابعي دی ،

د امام صاحب د حديث روايت ... عطاء بن ابي رباح (رح) ... نافع ... ابن عمر (رض) ازاد كړى ... گرد ... قتاده(رح) او له حماد بن ابي سليمان (رح) نه وو، له حماد سره يې پوره اتلس كاله د علم اخستلو لپاره تير كړل او فقه يې هم له هغه نه واخيستله هغه له ابراهيم نخعي(رح) او هغه له علقمه نخعي او اسود بن يزيد نه او هغو له عبدالله بن مسعود (رض) نه اخيستي وه.

له امام صاحب نه امام ابويوسف، امام محمد ، امام زفر، امام حسن بن زيادا او

نورو ډېرو فقهاؤ رحمهم الله فقه زده كړه او همدا ارنگه له امام صاحب نه وكيع بن الجراح او عبدالله بن المبارك او نورو ډېرو محدثينو د حديث روايت كړي دى: امام صاحب په كوفه كې د ټوكرانو سوداگرى كوله په رښتيني راكړه وركړه، د ټكي نه په كركه لرلو مشهوروؤ ، سايسته سړي ، خوندوره ناسته او خبري يې لرلې، سخي، كلك پرهيز گار او د اعتماد كولو ور(ثقه) شخصيت ؤ، يوازي هغه خبره به يې كوله چې ورته معلومه به وه، دده سه اعتبار د نظر تدقيق، قياس، كره فقاهت او په فقه كې امامت منل شوي صفتونه وو، عبدالله بن المبارك(رح) ويلي دي: تر ټولو ښه فقيه امام ابوحنيفه دى، ما په فقه كې دده ساري نه دى ليدلى او موږ يې په اكثرو وينا وو(اقوالو) عمل كړى دى؛ امام شافعى ويلي دي: خلك په فقه كې د امام ابوحنيفه عيال(روزي خواره) امام نضربن شميل ويلي دي: خلك له فقهي نه ويده وو امام ابوحنيفه په خپل فقاهت او بيان سره راويښ كړل. جعفر بن الربيع(رح) ويلي دي: په امام صاحب باندي پنځه كاله ډېر ؤ او له ده نه مي د بل چا اوږده چوپتيا نه و ليدله خو كه كله به د فقهي مسئلي پوښتنه وشوه بيا به يې خبري پرانستلي او لكه

سيلاب داسي به بهيده ، له امام ابويوسف نه روايت دى: زه يوه ورځ ورسره روان وم دوه كسان سره غږيدل او امام صاحب ته يې په اشاره سره وويل: دغه سړي ټوله شپه ويښه تير وي، امام صاحب واوريدل او ويلي ويل: داسي خبرى ته ځاي بايد پري نږدم چې څه(د خير كار) مي كړي نه وى او خلك مي وستايي، له هغه نه وروسته به بيا ټوله شپه ويښ ؤ؛

حسن بن عماره چې له وفات نه وروسته يې امام صاحب ته غسل وركړ په دعا سره يې خطاب ورته وكړ: الله تعالى دي رحمت او بښنه درته وكړي، ديرش كاله دي روژه ماته نه كړه، څلويښت كاله دي په شپه كې اوږخ و نه لگاوه، څوك چې ستا نه وروسته دى هغه دي ستومانه كړل (د تا په پله باندي چې ځي ډېره سختي به تيروى) علما او فقها دي خجل كړل (ځكه چې د تا غوندي عمل نشي كولاى).

يزيد بن عمر بن هبيره د بني اميه ؤو له خوانه د عراق والي ؤ او له امام صاحب نه يې وغوښتل چې قاضى به دي وټاكم، هغه نه منله بيا يې امام صاحب يو سل او لس دري وواهه، داسي فكر كيږي چې ابن هبيره د قضاء د نه كولو له امله نه بلكې د سياسي غوسي له كبله وهلى ؤ، ده فكر كاوه چې امام صاحب د هغو اهل بيتو پلوى دى چې څو ځله يې د بني اميه وو په خلاف بغاوتونه كړى دي نو ځكه قضا نه كوى چې د بني اميه وو له رژيم سره مخالفت لري.

(نور بيا)

هر څه مو كبار كبار شول

شاه جهان سرداري

څو ورځي وړاندي مي په جلال آباد كې يو كبارې وليده چه پنځه روپيزي افغاني يې په كبارى پلورلي، ډير كسان ترې را چاپير ؤو. څا به خندل، چا به په افغانيو پوري ټوكې كولي او ملنډي به يې پرې وهلي او څوك ورته په تعجب او حيرانتيا كې چپ ولاړ ؤو.

كله چه زه له هغه ځايه ولاړم او له خپلو دوستانو سره يو ځاي شوم نو په ډير تأثر سره مي ددغه كار يادونه وكړه ، زما د ملگرو څخه يوه را غبرگه كړه چه وروړه دا څو دومره د تأسف ور نده چه ته يې كوى، هوږ ته څه حيا او عزت را پاتي دي، زموږ خو هرڅه كبار، كبار شول،

د تنگرهار په سوزنده دښتو كي زموږ پرانه مهاجرين چه د قدرت په سر جگرو د خپلو كورونو پريښودلو ته مجبور كړي وو او د ښېنت لاري يې خپلى كړې وي آيا دوي كبار شوي نه دي؟آيا د پيښور په كوڅو كي د هيواد دغيرتي شهيدانو بچيان ندي ليدلي چه دچتلو لښتو څخه په خپلو ورو ورو لاسونو ناپاكه او فرسوده شيان را باسي او بيايې پلورى چه دخپلو تيږنو لپاره چه يوازي خپل خداي او ددغو ماشومانو اسرې ته سترگې په لاره وي او همدغه يي د رزق يوا ځنې مرجعه ده هغوى ته څه ناڅه د خوړو لپاره برابر كړى؟ ايا د هيواد په دننه او بهر كي افغاني ميندي نه وينې چي گداگري كوي، او خلكو ته د سوال او نياز لاسونه اوږدوي؟ آيا دا ټول كبار شوي نه دي؟ آيا دغه سرتورى پيغلې، دغه پښي لوڅي ماشومان، دغه نيازميني ميندي او ... ټول په كبار شوو حساب ندي؟ ملگرى مى را ته زياته كړه چه: صحيح ده وروره ستا تأسف هم بي ځايه ندي ځكه تاته به ددغه پنځه گوني ماضي درياديږي ، هغه وخت به په ياد راوړى چه هلته دغه پيسي ډيرى ارزښتناكې وې، په پنځه روپۍ به ډير څه كيدل، او دي يو سړي ډير ضرورتونه په پرې پوره كيدل، خوزن هغه وخت نه دى، لكه څرنگه چه د چركيو او منصب عاشقانو زموږ خلك سپك سپاندكړل او د

ترې د عزتمنو قومونو د څوكي څخه يې راوغورځول، په همدي توگه يې زموږ ټول ديني او عنعنوي ارزښتونه د سپكاوي كندي ته وغورځول، نه يې زموږ ولس ته عزت پريښود ، نه يې زموږ وياړمن تاريخ ته حيا پريښوده، نه يې زموږ پيسي ته حيثيت پريښود او نه يې...

رښتيا هم چه زموږ هرڅه د صدارت، وزارت، جمهوري رياست او ... څخه قربان شول هيڅ مو د تخت او تاج د حاصلولو په لار كې د كبارولو څخه خوندي پاتي نه شول او همدغه سبب دي چه نن په افغانستان كي هيڅ داسي څه نه ليدل كيږي چې زړه يې واخلي او سترگې پرى خوږي شي.

هرهغه څه چه پرون زموږ د وياړونو رمز و، د افتخار علامي مو وي د يرم سمبول مو و، د عزت او كرامت نښه مو وه، هغه ټول د چوكيو څخه زار شول.

ټول هغه څه چه زموږ فقير او گدا ولس په ډير زيار د ځان لپاره گټلي وو هغه ټول د څو پهلوانانو د شهوتونو او غوښتنو د پوره كولو په لبار كى لوزى شول.

دا هرڅه وشول خو تر ننه يې لړيه ختمه نه ده.

څه ناڅه څلور نيم كاله زموږ ولس د قدرت د ميناتو د جنگونو او شخړو په لمبو كي وسوځول شو، مال، عزت، او كرامت يې لوټ شو، هرڅه يې كبارشول، مگر لا ترننه د قدرت د جگرو پهلوانان زموږ د زعامت خوبونه وينى او داسي شايي چه گوندى دوي خو هيڅ ندي كړي او كه كوم واړه داسي څه شوي وي چه هغه دي د ملت په زيان وي نو هغه خو څه كوچني اشتباه گانى وي او چاته به د تشويش او انديښنې ور نوي!!

زموږ په ولس د منصب د عاشقانو لخوا نازل شوي افتونه چې څلورنيم كاله لگه د پسرلي د باران غوندي راووريدل او زموږ وطن يې د سلگونو زرو بي گناه انسانانو په وينو ولمباوه، دغه ټول د قدرت گټلو او قدرت ساتلو د جگړو د

وگر د پهلوانانو په وړاندي هغه كوچني اشتباهات دي چه د بهرني مداخلي په نتيجه كې رامنځته شوي وو، د هـ ت ليونيان نه يوازي دا چه د خپلو شرمونكو او ستونزمنو كړنو څخه پښيماني نه ښكاره كوي او له ولس څخه د خپلو ناوړه اعمالو بخښنه نه غواړي بلكې كله چه ملت دخپلو علماو او ديني طالبانو په مشرى او لارښوونه د ظلمونو، تيريو او ناروا وو مخنيوي ته راپاڅيدل، او په رياستونو د جنگ جگړو د عاملينو د خپلو اراده يې وكړه ، نو جگړه مارو افرادو سره غوږونه نږدي كړل او د قهريدلي او رپيدلي ملت په ضد يې يو بل ته سره لاسونه وركړل ، پدي تمه سره يو ځاي شول چه كه وكولاى شي د خپلو فسادونو لړۍ نوره هم څو ورځي ژوندي وساتي.

دوي داسي فكر كاوه چي ښايي دا ولس به تل يتيم وي، هميشه به يې سرپرسته وي، په دنيا كې به دا استغاثې هيڅ مرجع و نلري، څوك به يې آواز وانه وري ، څوك به يې د خپلو اسلامي او انساني حقوقو په ترلاسه كولو كى مرسته ونكړي، تل به يې يو غوږ لمځي او بل برستن گرځولى وي د بي پروايي،غفلت او بيباكي په خوب به ويده وي، هرڅه به يې د څو جگړه مارو د خواهشاتو د پوره كولو لپاره د اور په لمبو كي سوزي، ټول مادي او معنوي ارزښتونه به يې د دغو بي ضميره خودخواهانو د خوښي لپاره كبارېږي.

د منصبونو ليونيانو دا هيره كړي وه چه د هر فرعون لپاره موسي پيدا كيږي او هر څه زوال لري. خو لوي خداى(ج) ډير مقتدر ذات دي، د رحم خاوند دي ، دبي وزلو او مظلومو قومونو او انسانانو د نجات او خلاصي وسيلي برابروي.

د طالبانو اسلامي غورځنگ چه په افغان ولس د خداوندي رحمت نښه ده، د لوي خداى په مرسته او نصرت د مظلوم او كبار شوي ملت ژغورني ته را پاڅيدلى ، او زموږ د هيواد لپاره د پاك خداى له لوري يو دبيرزويني نعمت دي چه دا كبار شوي وطن او قوم به د خپل څښتن تعالي په نصرت د كبارانو له لاسه خلاصوي او ددى رنځيد لي او رپيدلي قوم له حقوقو څخه به دفاع كوي. انشاء الله.

د ملتونو ټولنه

په ... د پېړيو گي بين المللي اړيكو ته لنډه كتنه

دوهمه برخه

مولوي عبدالحكيم مجاهد

د دې دپاره چې دملتونو ټولنه (League of Nations) ، لومړی نړيوالی جگړي نتيجه وه. ښه به دا وى چې له هر څه نه مخكې د لومړي نړيوالي جگړي اسباب او د هغې ښكيلي خواوى په لنډه توگه لوستونكو ته ورو پيژنو او بيا ددغي مؤسسي په جوړښت، اهدافو او بيا هم د هغې په ناكامى باندي خبرى وكړو!

په مخكې بحث كې موږ څه نا څه د سيمي او د نړي د هيوادونو هغې دوه مخي پاليسى ته گوته ونيوله چې دغو هيوادونو په ښكاره د سولي او په حقيقت كې د جگړي دپاره هلي ځلي رواني كړي وى، او د يو بل د راپوټولو دپاره يې بيلي بيلي اتحاديي او ائتلافونه جوړول. د ښكيلتيا يې په ډول:

ـ فرانسي غوښت چې خپل دوه ولايتونه (آلزاس او لرين) بيرته له آلمان څخه تر لاسه كړي او ددى كار دپاره يې هر ډول لاري چاري كتلي.

ـ د بالكان په تاپو وزمه كې د آلمان او اطريش زياتيدونكي نفوذ، تزاري روسيي او انگلستان دواړو ته خطر متوجه كړى وو.

ـ آلمان غوښت چې خپلې ته لاره وباسي، اوبرلين له بغداد سره ونښلوي، له عثماني تركيي سره يې اړيكي ټينگى كړي، چې د نورو دپاره خطر ؤو.

ـ همدارنگ آلمان غوښت چې سمندرونو ته لاره پيدا كړي، چې دا كار د انگلستان د سمندري تسلط او كنټرول دپاره خطر ؤو.

جگړه هغه وخت پيل شوه كله چې د اطريش ولي عهد (ارشيدوك فرانسوا فرديناند) د جولايي په اته ويشتمه، كال ۱۹۱٤م، د وسراييوو ښار، په صربستان كې ووژل شو، او اطريش له ۲٤ ساعته وخت وركولو نه وروسته، چې صربيانو د روسيي په اشاره د اطريش غوښتنه چې مسببان د وژنې دوخپول شي، اودا ډول پلټنې دى د اطريش د هيئت له خوا تر سره شي، رده كړه. په نتيجه كې اطريش د اگست په دوهمه نيټه كال ۱۹۱٤ن له صربستان سره د جگړي اعلان وكړ او په دي ترگه د هرى خوا متحدين او ملگري د جگړي ميدان ته راگډ شول چې څلور كاله جگړي دوام وكړ: لس ميليونه انسانان په كى ووژل شول، شل ميليونه زخمي شول: ښاروونه وبجاړ شول او بې شميره مالي او ځاني تاوانونه د جگړي مختلفو خواوو ته واوښتل.

د/نړي خلك له دغو وحشى او استعماري جگړو څخه تنگ شول، په هر ځاي كې له هري خوانه د سولي فعاليتونه پيل شوو، څو وكولاتشي په راتلونكي كې د دا ډول تباهيو او بربادېو مخه ونيوله شي. هغه ؤو چې د امريكا د جمهور رئيس وډرو ويلسن (Wood Row Wilson) د هلو ځلو په نتيجه كې په ۲۸ د جون، كال ۱۹۱۹م، د «ورسائي» په مقام باندي د آلمان او متحدينو تر مينځ يو تړون لاسليك شو چې په لاندي ډول ؤو:

۱: د آلزاس او لرين دوه ولايتونه په بيرته فرانس ته وركړى، د راتين د دوياب په غاړه په آلمان نه فوځونه ځاي په ځاى كړى او نه خو هلته قوځي كلاگانى جوړولاى شي.

۲: له المان څخه يې بحري ځواك واخيست او په ځمكني فوځ كي يې كميښت راوست.

۳: له المان څخه يې ټولي مستعمري واخيستى، په افريقا كي په آلماني مستعمرو باندي انگلستان خپله واچوله.

٤: د وسار سيمه چې د كوټيلي يا د ډېرو د سكرو كانونه يې درلود، د ۱۵ كاله د پاره يې فرانسي ته وركړه.

٥: د هنگري او اطريش ځيني برخي يې له لاتيريا سره يو ځاى كړى، د چكو سلواكيه په نوم يې جو خپلواكه آزاد دولت را مينځ ته كړ.

٦: پـه المان باندي يې پوليس ميلياردو پونډه د جگړي تاوان كيښود، چې په قسطونو باندي يې د اداكولو وعده وركړه.

۷: د روسيي، آلمان او اطريش څخه برخي يې سره يو ځاي كړي، يو نوى خپلواكه هيواد «پولينډ» يې ورڅخه جوړ كړ. د آلمان تجارتي بندرگاه يې له آلمان څخه واخسته، پولينډ ته يې وركړه.

۸: له عثماني تركيي څخه يې د شام، فلسطين او عراق سيمي واخستي؛ شام يې فرانس، فلسطين او عراق يې انگلستان ته وركړل. د دانيال دره يې د «ملتونو د ټولنې» تر نظارت لاندي وركړه، چې تركيي ته يې ډېره لږه برخه پريښوده.

۹: په راتلونكي كي به د دولتونو تر مينځ د جگړو دغورځولو او په نړي كى د سولي او امن د ساتلو دپاره، د «منشور» ټولني د جوړولو فيصله وكړه.

هغه ؤو چې د جنوري د مياشتي په لسمه، كال ۱۹۲۰م كې د ملتونو د ټولني (League of Nations) بنسټ

كيښودل شو. په سر كي اووويشت هيوادونه په دغه مؤسسه كې شامل شول. په دغه ټولنه كي د شموليت يا غړيتوب د تر لاسه كولو دپاره لازم ؤو چې د ټولني له دريو نه دوه برخي غړي يې ملاتړ او حمايت وكړي. د «ملتونو د ټولني» اصلي محرك او رامينځ ته كوونكي امريكا وه. خو د دي دپاره چې د هغه هيواد د سنا مجلس په ټولنه كي د غړيتوب مخالفت څرگند كړ، نو امريكا يې غړيتوب نه كړ تر لاسه. دا ځكه چې امريكايانو دغه ټولنه يواځي د اروپايي هيوادونو چاره گڼله.

دملتونو دټولني تشكيل په لاندي ډول ؤو:

۱: عمومي اسنبله: دغه د ټولني لويه جرگه وه چې له هر هيواد څخه به په دريو تنو مشتمل يو هيئت برخه په كي اخستله او يواځي د يوي رايي د وركولو حق يې درلود. اسنبله به په كال كي يو ځلي كښنستله او د پريكړي دپاره د ټولو غړيو د رايو اتفاق ضروري ؤو.

۲: د ټولني شورى: څلورلس غړي يې درلود چې پنځه مستقل او نه غير مستقل ؤو، چې د اسنبلي له خوا به د دريو كالو دپاره ټاكل كيدل، په كال كې به يې څلور ځلي غونډه كوله، د پريكړو دپاره د رايو اتفاق لازمي ؤو.

۳: دارالانشا: دا د ټولني اداري ځانگه وه چې مركز يې په جنيوا كي ؤو. د عمومي منشي انتخاب به د عمومي اسنبلي په منظوري سره كيده، او د نورو مامورينو توظيف د عمومي منشي كار ؤو. د دارالانشا مصارف به غړيو هيوادونو وركول.

٤: د عدالت بين المللي محكمه: دغه محكمه په كال ۱۹۳۱م كي رامينځ ته شوه چې مركز يې د هالينډ په هيگ ښار كې ؤو. په دغه اداره كي ټولس قاضيان او څلور مرستيال قاضيان ؤو، چې دشورى او عمومي اسنبلي په گډه به د نه كاله دپاره ټاكل كيدل. د عدالت رئيس او نائب رئيس به خپله د عدالت له خوا هر درى كاله وروسته ټاكل كيدل. د فيصلى د پاره د نه تنه قاضيانو موجوديت ضروري ؤو.

د ټولني اهداف:

۱. د ټولني نړى د هيوادونو شخړي په فيصله كوي، څو نړي د جگړي له تباهي څخه وژغوري.

۲. د جگړي د اسبابو او وسايلو لكه فوځ او د وسلې سامان كمول.

۳. د دولتونو تر مينځ د شخړو او اختلافونو د غوځولو دپاره د عدالت بين المللي محكمه جوړول.

٤. د مختلفو ملتونو تر مينځ د مرستي او همكاري روحيه لوړول، څو د دوى د پرمختگ او ښيرازي سويه لوړه شي.

٥. د ملتونو ټولنيزي ودې او پرمختگ ته لكه: روغتيايي ساتنه، تعليم او تربيه او د ژوندانه نورو ښستهيزو اړتياو ته پام كول.

٦. د ټولني غړي هيوادونه د بين المللي تړونونو پلي كيدو ته چمتو كول او مجبورول.

۷. د كارگرانو د ژوند د ښه كولو دپاره قوانين جوړول.

۸. وروسته پاتي هيوادونه د پرمختللو هيوادونو په تحويل كي ددى دپاره وركول چې د دوي د پرمختگ دپاره هلي ځلي وكړي.

د ملتونو د ټولني ناكامي:

د ملتونو ټولنه (League of Nations) د خپلو اهدافو په سرته رسولو كي په بشپړه توگه ناكامه شوه، دغي مؤسسي ونكړاى شو نړى ته امن، سوله او عدالت وربه برخه كړي، ځكه لومړي نړيواله جگړه په واقعيت كي پايته ونه رسيده، بلكې د مختلفو هيوادونو له خوا د بلي پرا خي جگړي دپاره سختي هلي ځلي رواني وى آلمان چې د ... يې " معا هده ظالمانه اود ځان لپاره يې توهين بلله د خپل وقار د بيرته لاسته راوړلو دپاره يې نظامي تيارى پيل كړى وى، له بلي خوا دجگړي د تباهيو په نتيجه كې ځيني خلك بلهايه او ځيني خلك سخت خواران اوبي وزله وو. هغه ووچې د سوسيا ليزم، فاشيزم، نا سيوناليزم او د نشنل سوسياليزم مبارزي پيل شوى، آزاد كلاسيك اقتصاد ونكړاى شو چې د ۱۹۲۹ كال اقتصادي بحران ته ځواب ووايي؛ په اقتصاد كې د دولت مداخله ضروري وبلله شوه او په دي توگه د كارگرانو او سرمايه دارانو تر مينځ مبا وزه پخه شوه .

ـ په كال ۱۹۳۵م كي نابويره اټاليا په حبشه باندي يرغل وكړ او وي نيوله.

ـ آلمان د هټلر په مشرى كي په كال ۱۹۳۸م كي په اطريش باندي يرغل وكړ وي نيول.

ـ جاپان په منچوريا باندي حمله وكړه او بيا يې په چين باندي يرغل وكړ، خو بين المللي ټولنه د دغو جگړو او يرغلونو په مخنيوى كي بالكل پاتي راغله، د كمزورو هيوادونو مرسته يې ونكړاى شوى او د دي په نتيجه كي بين المللي ټولنه ړنگه او دوهمه نړيواله جگړه رامينځ ته شوه.

****

ستاسو لیکونه او زمونږ ځوابونه

د شریعت د اوونیزی ګرانو کارکوونکو ته :

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته !

له خدای(ج) څخه ستاسو د جوړتیا او روغتیا په هیله یم. ددی جریدی د خپریدو او عظیم خدمت درته مبارکی وایم او الله مو په خپلو نیکو اهدافو کی بریالی لره.

ستاسو اوونیزه جریده همیشه لولم د یادونی معلوماتی مطالب لري ما یوه لیکنه هم درلیږلي ده هیله ده چی د نشر وړ وبلل شی

په درناوی
ستاسو ورور،
م. هـ فیضانی»

لکه څنګه چی ټولو افغانانو ته دا په ډاګه شوه چی اوس زمونږ رهبران د اقتدار په ارمان کی مظلوم افغانان په سرو وینو کي لغړوی.

د څوارلس کلن جهاد په اوږدو کی زمونږ باتورو افغانانو ډیره په میړانه او اتلولۍ خپله خاوره نه یواځې د سره پوځ له منګولو څخه خلاصه کړه بلکی هغوی ته یی داسی غابښ ماتوونکي ماتي ورکړه چی په ټوله نړۍ کی یی ذلیل او نیت پرك کړل. ددغو میړنو او وطن پالو خاوره اوس خپل رهبران د اقتدار په ارمان کی تباه کوی او د هغو یتیمانو، کونډو او شهیدانو پر حق باندی سترګی پټوی، خو انشاء الله دا خاوره به د شریعت او حق پیژندونکی طالبان د تباهۍ څخه راګرځوی. که څه هم په وطن کی د جنګ او د ناآرامۍ په وجه زمونږ افغانان بیلا بیلو هیوادونو ته مهاجر شول خو د هر څه مشکلاتو سره، سره دوي خپل بچیان د تعلیم څخه محرومه ندي ساتلی او دا خبره هم باید واضح شی چی په ځینو لیسو او مدرسو کي داسی تنظیمی کسان یعنی ښوونکی شته چی خپل شاګردان دومره درس ته نه متوجه کوی لکه څومره یی چی احساس او فکر سیاست ته وراوړی.

لکه څنګه چی تیره ورځ د التقوی په عالی لیسه کی یو کانفرانس جوړ شوی ؤ، پدی کانفرانس کی قاضی امین«وقاد» هم شرکت کړی ؤ ، شاګردانو به د طالبانو داسلامي تحریك په ضد شعارونه ورکول دا ځکه چی دوي ته یا قاعده ددی درس ورکول کیږي چی ګنی طالبان د پاکستان پوځ یا د امریکا کسان دی. دغه د افغان بچی چی پلرونه یی په ډیرو مشکلاتو د خپلو بچو د مکتب فیس وربرابروی او په ډیرو هیلو خپل بچي مکتب ته استوي او دا یی ارمان وی چي زما زوی تعلیم وکړی او انشاء الله خامخا به څه ورڅخه جوړ شی. خو دا مشخص کسان نه پریږدی چی ددغو مظلومو او غم ځپلو افغانانو پلرونو ارمانونه پوره کړی. ددی پر ځای چی دوی ته څه ور زده کړي سیاست ته یی زیات متوجه کوي.

زه امید لرم چی زمونږ شاګردان ورونه باید دهیڅ یو پیکارو او غرضی خبرو دوکه نه شی، صرف او صرف له خپل درس سره تعلق وساتی او په بی ځایه خبرو خپل ارزښتناکه وخت ضایع نکړي.

شریعت:

ګرانه وروره م.هـ فیضانی صاحب! زمونږ سلامونه او نیې هیلی هم ومنه ، ستا لیك او د لوست په اړه نیکنه مو ټکي په ټکي چاپ کړ ، مونږ هم ستاسو له نظر سره ملګری یو. رښتیا هم ښوونځی او نور تعلیمی مؤسسات باید له سیاسی فعالیتونو څخه مبری وی،ځکه زمونږ تنکی نسل په اوسنیو شرایطو کي یوازی او یوازی علم ته ضرورت لری، کله چی ددوی سیاسی شعور وده وکړی بیا خپله تګ لاره پخپله پیدا کولای شي.

دګران هیواد له ټولو ښاغلو ښوونکو او د تعلیمی مؤسسو له مسؤولینو څخه زمونږ هیله داده چی د مسلمان ملت له غوښتني سره سم د وطن اولاد وروزی، ددی پر ځای چی د زده کوونکو فکر له درسی پروګرام څخه بل لوری ته واړوي ښه به دا وی چی هغوی یوازی او یوازی درسونو او سمي تربیې ته متوجه کړي ترڅو راتلونکی افغانستان د هغوی د علم او پوهی په رڼا کی د پرمختګ پړاوونه ووهی.

په درناوی
(اداره)

****
****

د ادب ملغلرې

ادبي ټوټه

بابا مونږ وطن ته کله ځو؟

زه چی د مازدیګر له لمانځه څخه فارغ شوم او لا په جاینماز باندی لاس په دوعا ناست وم چی ماشوم زوی می سمیع الله په غیږ کي ځان راواچاوه او سدلاسه یی راڅخه وپوښتل چی:«بابا مونږ وطن ته کله ځو؟» ما چی دده معصومو سترګو ته وکتل نو رښتیا می هم دده په سترګو کی د وطن د مینی آثار ولیدل او داسی می محسوس کړه چی ګوندی سمیع الله خپل خوږ وطن په خپلو سترګو لیدلی او هلته لوییدلی دي، خو واقعیت دا دی چی هغه د هجرت په خیمو کی پیدا شوی او د هجرت په خیمو کی لوی شوي دي او کله هم داسي نه ده پیښه شوی چی هغه دي وطن ته تللی وی.

ما ددي لپاره چی د هغه پوښتنه بي ځوابه پاتی نه شی نو می د هغه پر سر باندی لاس راتیر کړ ورته ومی ویل:« ته خپه کیږه مه انشاء الله مونږ به ډیر ژر وطن ته ولاړ شو، او هغه ورځی به راوسیږي چی ته به د وطن په غیږ کی د وطن له ماشومانو سره لوبی کوی، جومات کی به له ملاصاحب څخه قرآن شریف زده کوی او بیا چی لږ رالوی شي مکتب ته به ځې اوبس بیا به هلته ته د وطن خدمت کوی».

ده بیا هم زه دوعا ته پري نښودم وي ویل : نو اوس ولي نه ځو، اوس خو دلته ډیره ګرمي ده، خلك وایی چی زمونږ وطن ډیر یخ دي، سړي اوبه لري، ښه هوا لري او زه به اوس هم پخپل کلی کي جومات ته ځم سبق به وایم او یخی او به به څښم. ما وی لږ وخت شته اوس زمونږ په وطن کي جنګونه دی. خلك وژل کیږی، مرکزي قوي او قانوني حکومت نشته، هرڅوك پخپل سر دي، کله چی جنګونه ختم شی، مرکزي قوي قانوني حکومت جوړ شی، بیا به انشاء الله نا خپل کلي ته بوځم او هلته به بیا خوشحال ګرزی.

خو ده وویل: خلك وایی چه اوس زمونږ په وطن کی روسان نشته، کمونستان ختم شوي دی، نو اوس څوك جنګ کوی؟ او ولی یی کوی؟ ما ځواب ورکړ او د هغه پر سر می بیا هم لاس را تیر کړ، ما وي بچوا رښتیا هم اوس زمونږ په وطن کی نه روسان شته او نه کمونستان په قدرت کي دي خو اوس له یوې خوا ظلم او فساد پر خلاف جګړه روانه ده او له بلي خوا په کابل کی د قدرت وږی پخپلو کي په چوکۍ سره نه جوړیږي، یو وایی چوږزه دي په چوکۍ کي کښینم او بل وایی چه نه زه د چوکۍ لایق یم، نو کله چی فساد ختم شي د چوکۍ په سر مقابله پای ته ورسیږي بیا به نو په وطن کی د ژوند کولو امکانات لاس ته راشی او هرڅوك به په داوه زړه خپلو کورونو ته ستانه شی.

